**پر خپلو حقونو پوه شئ:**
**که د پولیسو، کډوالۍ یا فدرالي تحقیقاتي اداره (FBI) لخوا ودرول شئ، نو څه وکړئ**
**تاسو د کډوالۍ یا تابعیت حقونو ته له پام پرته د اساسي قانون له مخې حقونه لرئ!**

**تاسو د لاندې مواردو حق لرئ...**

- خپله دروازه نه پرانیزئ مګر دا چې د کډوالۍ او ګمرکاتو اجرایوي اداره (ICE) یو د نیولو حکم ولري چې قاضي لاسلیک کړی هم وي.
- د خپلې کډوالۍ وضعیت یا دا چې د کوم هېواد یاست، په دې هکله پوښتنو ته ځواب ونه وایاست کله چې پولیس، د کډوالۍ استازي یا نور چارواکي غوښتنه کوي.
- چوپ پاتې شئ او ستاسو د ځان، موټر یا کور د پلټلو لپاره له رضایت ورکولو انکار وکړئ. دومره په زوره ووایئ"زه غواړم چوپ پاتې شم" او "د پلټلو لپاره رضایت نه ورکوم" چې چارواکی او شاخوا شاهدان یې واروي.
- د وکیل غوښتنه وکړئ که ونیول شئ - تر هغه پوښتنو ته ځواب مه ورکوئ چې وکیل مو راشي. له وکیل سره له سلا مشورې پرته د اسنادو له لاسلیکولو څخه انکار کولی شئ،
- وپوښتئ "ایا زه نیول کېږم؟" که تاسو نه نیول کېږئ، حق لرئ چې په چوپتیا سره لاړ شئ.
- په هغه ژبه کې سند ترلاسه کړئ چې پرې پوهېږئ. که په انګلیسي نه پوهېږئ، نو شفاهي ژباړن وغواړئ.

**ستاسو مسوولیتونه**

- چوپ پاتې شئ او مؤدب اوسئ.
- له ځان سره ګرین کارت مه وړئ، که یې لرئ. ښايي اړ وئ چې د کډوالۍ استازي ته وښیئ. که د کډوالۍ اسناد نه لرئ، ووایئ "زه غواړم چوپ پاتې شم."
- که شفاهي ژباړن ته اړتیا لرئ، ویې وغواړئ.
- د هغه څه جزیات په یاد وساتئ چې پېښ شول.
- له پولیسو یا د کډوالۍ استازي سره فزیکي مقاومت مه کوئ.
- دروغ مه وایئ یا نا سم نوم یا اسناد مه ورکوئ.

**د ICE لخوا نیول کېدو ته چمتو اوسئ**

- دا سند له ځان سره یوسئ ترڅو پر خپلو حقونو پوه شئ.
- د هغه یوه یا دوو کسانو د ټلیفون شمېرې په یاد ساتئ چې د نیول کېدو په صورت کې زنګ ورته وهلی شئ. ښايي تر نیول کېدو وروسته خپل ټلیفون ونه شئ کارولی.
- د مهمو اسنادو او کاپي او دغه راز اړین درمل په داسي خوندي ځای کې وساتئ چې یو څوک یې ترې را اخیستی شي.
- خپلو ماشوماتو ته د پاملرنې بیړنی پلان جوړ کړئ، که تاسو ونیول شئ.

**که تاسو د پوښتنو لپاره ودرول شئ**

- چوپ پاتې شئ. منډه مه وهئ. له پولیسو سره دلیل مه وایئ یا مقاومت مه ورسره کوئ حتی که بې ګناه هم وئ یا مو پولیس پر حقونو تېری کوي. لاسونه په داسې ځای کې ونیسئ چې پولیس یې لیدلی شي.
- اړ نه یاست چې هر څه ته ځواب ورکړئ چې خپل نوم او هغه هېواد پکې شامل دی چې تاسو یې اصلي اوسېدونکي یاست. کولی شئ ووایئ چې "غواړم چوپ پاتې شم."
- وپوښتئ "ایا زه نیول کېږم؟" که داسې نه وي، په چوپتیا سره لاړ شئ.

<u>که پولیسو ودرولئ</u>

- د پولیسو افسران اجازه نه لري چې پلې قدم وهونکي کسان او ماشومان وپلټي (یا د پلټلو غوښتنه وکړي)، مګر دا چې پر دې باور کولو لپاره ښه دلیل ولري چې یاد کسان په جرم کې دخیل دي.
- اړ نه یاست چې د خپل ځان یا اړونده شیانو له پلټلو سره موافقه وکړئ. ښایي پولیس مو جامې وباسي، که فکر کوي چې ښایي وسله درسره وي.
- که د پولیسو لخوا نه نیول کېږئ، د دلیل د پوهېدو حق یې لرئ.

<u>که د کډوالۍ استازو ("ICE") ودرولئ</u>

- په یاد ساتئ: اړ نه یاست چې خبرې وکړئ. د ICE ازستازي معمولاً د نامه تر پوښتلو وروسته نیول کوي.
- د ICE ازستازو ته د بل هېواد پېژندپانه مه ښیئ یا د خپل تابعیت په هکله دروغ مه وایئ.
- که د ICE ازستازي وایي چې تاسو نیسو، نو پوښتنو ته ځواب مه وایئ. چوپ پاتې شئ او وکیل وغواړئ. تر هغه د اسنادو له لاسلیکولو څخه انکار کولی شئ چې له وکیل سره سلا مشورې وکړئ.
- ووایئ "زه پلټل کېدو ته رضایت نه ورکوم"، که مو جېبونه یا اړوند شیان ګوري.
- د ICE استازي د ګوتو نښانونو ماشینونه لرلی شي. که نیول شوي نه یاست، کولی شئ رد کړئ چې د ګوتو نښان مو واخلي.

**که تاسو په خپل موټر کې ودرول شئ**

ډېر ژر خپل موټر په یوه خوندي ځای کې ودروئ. موټر خاموش کړئ، د داخل څراغونه روښانه کړئ، کړکۍ یې نیمه پرانیزئ او خپل لاسونه پر اشترنګ کېږدئ.

<u>که پولیسو ودرولئ</u>

- پولیسو ته خپل لایسنس،، راجسترشن او د بیمې ثبوت وښیئ، که یې وغواړي.
- که کوم افسر غواړي چې د موټر داخل وګوري، باید موافقه ونه کړئ. که پولیس فکر کوي چې موټر مو د جرم ثبوت لري، نو له رضایت پرته پلټل کېدی شي.
- موټر چلوونکي او مسافر دواړه د چوپ پاتې کېدو حق لرئ. که تاسو مسافر یاست، پوښتلی شئ چې ایا تلی شم که نه. که افسران وایي چې هو تلی شئ، نو یا چوپ کېنئ یا په چوپتیا سره لاړ شئ. تاسو د مسافر په توګه اړ نه یاست چې پېژندپانه له ځان سره وګرځوئ، خو ښایي درڅخه وغوښتل شي چې افسر ته یې وښیئ یا دا چې خپل نوم او پته شریکه کړئ.

<u>که د کډوالۍ استازو ("ICE") ودرولئ</u>

- د ICE استازي ښایي یو داسې جامه واغوندي چې "پولیس" پرې لیکل شوي او تاسو ته ونه وایي چې د ICE استازي یو. له استازو وپوښتئ چې خپل نښانونه وښیي چې تاسو پوه شئ چې دوی له کومې ادارې سره کار کوي.
- که د ICE استازي مو موټر ودروي، تاسو اړ نه یاست چې خپله پېژندپانه ورته وښیئ یا پوښتنو ته ځواب ورکړئ. دغه راز اړ نه یاست چې خپل نوم یا هغه هېواد ورته ووایئ چې تاسو ورسره تړاو لرئ. ووایئ چې "غواړم چوپ پاتې شم."
- که د کډوالۍ استازی غواړي چې ستاسو د موټر داخل وګوري، اړ نه یاست چې موافقه ورسره وکړئ. ووایئ "زه دغې پلټنې ته رضایت نه ورکوم."
- که ونیول شئ، د وکیل حق لرئ - پوښتنو ته ځواب مه ورکوئ، که مو وکیل درسره نه وي.

**که پولیس یا د کډوالۍ استازی مو کور ته راشي**

- که پولیس یا د کډوالۍ استازی مو کور ته راشي، تاسو اړ نه یاست چې دروازه پرانیزئ، مګر دا چې له دوی سره د نیولو داسې حکم شته وي چې قاضي لاسلیک کړی وي.

<u>که پولیس مو کور ته راشي</u>

- ترې وغواړئ چې د نیولو حکم تر دروازې لاندې درته را واچوي یا یې پورته ونیسئ چې تاسو یې له کړکۍ ولیدلی شئ.
- د پلټنې حکم پولیسو ته اجازه ورکوي چې په حکم کې ذکر شوې پتې ته داخل شي، خو افسران همغه ساحې او ذکر شوي شیان پلټلی شي.
- د نیولو حکم پولیسو ته اجازه ورکوي چې په حکم کې ذکر شوي کس کور ته داخل شي، که باور ولري چې یاد کس په داخل کې دی.

- حتی که پولیس د جرمي نیولو حکم ولري، تاسو اړ نه یاست چې خبرې وکړئ. که غواړئ چې د پولسو له افسر سره خبرې وکړئ، نو بهر را ووځئ او دروازه بنده کړئ.

<u>که د کډوالۍ استازي ("ICE") مو کور ته راشي</u>
- د کډوالی استازي د قاضي لخوا لاسلیک شوي نیولو حکم پرته ستاسو کور ته نه شي ننوتلی. یوازې د ICE چاروا‌کو لخوا لاسلیک شوي اسناد دوی ته دا حق نه ورکوي چې ستاسو کور ته داخل شي.
- د ICE له استازي وغواړئ چې د نیولو حکم کاپي د کړکۍ له لارې درته وښيي یا یې تر دروازې لاندې درکړي. ډاډمنه کړئ چې د قاضي نوم او لاسلیک پرې شته دی.
- که د ICE استازو ته دروازه پرانیزئ، نو اجازه ورکوئ چې کور ته داخل شي او وروسته په محکمه کې د ICE نیونه نه شئ ننګولی.
- د ICE استازي په کور کې د نیولو لپاره ګمراه کوونکي معلومات ورکړي. د ICE د استازو لپاره دا ویل عام دي چې د جرم یا درغلی پلټنه کوو ترڅو تاسو ته قناعت درکړي چې دروازه ورته پرانیزئ او خبرې ورسره وکړئ.
- د ICE استازي ښایي یو داسې جامه واغوندي چې "پولیس" پرې لیکل شوي او تاسو ته ونه وایي چې د ICE استازي یو.

**که د پولیسو لخوا ونیول شئ**
- که تاسو ونیول شئ او جرم پر غاړه درواچول شي، نو سملاسي ووایئ: "زه غواړم چوپ پاتې شم" او "زه غواړم چې له یوه وکیل سره خبرې وکړم." که د وکیل پیسې نه شئ ورکولی، نو د وړیا هغه حق لرئ.
- له وکیل پرته خبرې مه کوئ، هېڅ شی مه لاسلیک کوئ یا پرېکړې مه نیسئ.
- حق لرئ چې زنګ ووهئ. پولیس غوږ نه شي نیولی، که تاسو وکیل ته زنګ ووهئ.
- د نیولو کېدو په صورت کې چمتو اوسئ. د خپلې کورنۍ د غړو او وکیل شمېرې په یاد ساتئ. که ماشومان لرئ یا درمل خورئ، نو بیړني پلانونه جوړ کړئ.
- د پولیسو لخوا تر نیولو کېدو وروسته ستاسو د ګوتو نښانونو په ګډون معرفي کوونکي معلومات
په اوتومات ډول له
ICE سره شریک کېدی شي. دغه راز ICE ستاسو د ټلیفون شمېره او پته ترلاسه کولی شي.

<u>که تاسو داسې غیر تبعه وئ چې د پولیسو لخوا نیول شوي وئ</u>
- که مو پر غاړه جرم درواچول شي، نو خپل جنایي وکیل ته د خپلې کډوالۍ وضعیت په هکله ووایئ. د جرمي محکومیت د کډوالۍ پایلې په خپله د جرم تر جزا ډېرې بدې کېدی شي.
- له خپل وکیل پرته د کډوالۍ وضعیت په هکله له بل هېچا سره خبرې مه کوئ.
- کله چې په زندان کې وئ، د کډوالۍ استازی مو لیدلی شي. له وکیل سره تر خبرو مخکې پوښتنې ته ځواب مه وایئ یا کوم څه مه لاسلیک کوئ.
- له وکیل سره له سلا مشورې پرته د اسنادو له لاسلیکولو څخه د انکار حق لرئ.

**که تاسو د کډوالۍ ("ICE") توقیف ځای ته بیول شئ**
- تاسو د وکیل حق لرئ، خو حکومت بیا اړ نه دی چې وکیل درکړي.
- له خپل کنسول سره د اړیکې نیولو حق لرئ یا دا چې له یوه افسر وغواړئ چې کنسول ته ووایي چې تاسو نیول شوي یاست.
- له خپل وکیل پرته د کډوالۍ وضعیت په هکله له بل هېچا سره خبرې مه کوئ. له وکیل سره له خبرو پرته کوم څه مه لاسلیک کوئ.
- د خپلو ICE کاغذونو کې یوه شمېره پیدا کړئ او د خپلې کورنۍ غړو ته یې ورکړئ. تاسو د کډوالۍ محکمې معلوماتو د توقیف موقعیت ترلاسه کولو لپاره یوې شمېرې ته اړتیا لرئ.
- تاسو حق لرئ چې هغه اسناد په داسې ژبه کې چې پرې پوهېږئ، ولولئ چې ICE یې درکوي یا له یوه چا وغواړئ چې درته ویې ژباړي. د هغو ټولو اسنادو یوه کاپي ترلاسه کړئ چې ICE غواړي لاسلیک پرې وکړئ او په توقیف کې یې له ځان سره وساتئ.

**که FBI له تاسو سره اړیکه ونیوله**
- که د FBI استازی ستاسو کور یا کارځای ته راشي، تاسو اړ نه یاست چې پوښتنو ته ځواب ورکړئ. استازي ته ووایئ چې غواړم لومړی له یوه وکیل سره خبرې وکړم.
- که له تاسو غوښتل چې د FBI له استازي سره د مرکې لپاره ووینئ، نو د دې ویلو حق لرئ چې نه غواړم مرکه راسره وشي.

- که موافقه کوئ چې مرکه وکړئ، نو وکيل هم حاضر کړئ. اړ نه یاست چې هغه پوښتنې ځواب کړئ چې پرې ناراحته کېږئ او ويلی شي چې د يوې مشخصې موضوع په هکله پوښتنې ځوابوم.

**ستاسو خصوصي حريم او ټکنالوژي**

- خپل د ټولنيزو رسنيو پروفايلونه خصوصي وساتئ او د هغو معلوماتو په هکله فکر وکړئ چې به ټولنيز رسنيو کې خپروئ.
- په ياد ساتئ چې ټليفون مو موقعيت تعقيبولی شي او شرکتونه دغه معلومات له يو بل او ICE سره شريکوي.
- ICE به مو ټليفون وساتي، که ورسره ونيول شوئ او د ICE استازي مو په اجازه سره په ځينو شرايطو کې ټليفون کتلی شي.

**که داسې احساس کوئ چې تېرى دربانديې شوى دى**

- په ياد ساتې: پر سړک باندې د پوليسو نا سم چلند ننګول کېدی شي. له پولسو سره فزيکي مقاومت مه کوئ يا يې په شکايت ثبتولو سره مه ګواښوئ،
- هر هغه څه وليکئ چې په ياد مو دي، د افسرانو نښان او ګزمې موټر شمېرې، دا چې افسران د کومې ادارې وو او نور جزيات پکې شامل کړئ. د شاهد لپاره د اړيکو معلومات ترلاسه کړئ. که ټپي شوئ، د خپلو ټپونو انځورونه واخلئ (خو لومړى طبي پاملرنه وپلټئ.)
- د ادارې له داخلي چارو برخې يا مدني شکايت له بورډ سره ليکلی شکايت ثبت کړئ. په ډېرى حالتونو کې کولی شئ شکايت بې نومه ثبت کړئ، که غواړئ.
- د RI له ACLU سره info@riaclu.org ته په ايميل کولو يا (401) 831-7171. شمېرې ته په زنګ وهلو سره ليکلی شکايت ثبت کړئ.

په نړيوالو پولو او هوايي ډګرونو کې جلا قوانين عملي کېږي. له هغو کسانو ښايي وغوښتل شي چې د خپلې کډوالۍ وضعيت په هکله پوښتنو ته ځواب ورکړي چې د غير کډوالو مشخصې ويزې لري.

موږ پر پوليسو تکيه کوو چې نژاد، توکم، ملي نصب او دين ته له پام پرته مو خوندي وساتي او عادلانه چلند راسره وکړي. دغه کارت له پوليسو سره د تعانل او پر خپلو حقونو باندې د پوهېدو لپاره لارښوونې چمتو کوي.

**يادښت:** ځيني ايالتي قوانين ښايي توپير ولري. په چيک پاينتونو او متحده ايالتونو ته (د هوايي ډګرونو په ګډون) د ننوتو پر مهال جلا قوانين عملي کېږي. دغه بروشر قانوني وسيله نه ګڼل کېږي.

## د 2025 په فبرورۍ کې اپډېټ شوی دی.

ACLU
AMERICAN CIVIL LIBERTIES UNION FOUNDATION
Rhode Island

ACLU of Rhode Island
128 Dorrance St. Ste 400
Providence, RI 02903
www.riaclu.org
(401) 831-7171